# پروفیسور نکلسون

د اروپا په پوهانو کي چي شرقي علومو او مخصوصاً يې اسلامي پوهنو ته ښکاره خدمتونه کړي دي، يو مشهور مستشرق نکلسون دئ، چي د ده شهرت د اسلامي تصوف او صوفیانو په پېژندنه کي ډېر دئ، او ډېر د اسلامي تصوف کتب يې ترجمه او خپاره او چاپ کړي دي.

د ده پوره نوم رينالډای نکلسون دئ، چي په ١٨٦٨ ع کال د اګسټ پر نونسمه زيږېدلی دئ، پلار يې هنري ايلين نکلسون (ايم، ډي، ايف، آر، ايس) په ايبر ډين پوهنتون کي د طبيعاتو د تاريخ پروفيسور و، پخپله نکلسون هم په ايبرډين او کيمبريج کي لوست وکړ، په ١٨٨٠ او ١٨٩٠ ع يې په يوناني ژبه ځيني نظمونه وپېودله او لوی انعام يې واخيست.

ده په ١٨٩٠ ع د زړو علومو څانګه په امتيازي ډول پاس کړه او په ١٨٩٢ ع يې د هند د ژبو امتحان په امتيازي څېر ورکړ، عربي يې له رابرټس سمت څخه ولوسته او بيا يې په استربرګ او ليډن کي تکميل کړه.

دده پلار هم د عربي يو فاضل سړی و، نو ځکه له کوچنيوالي څخه ده ته د اسلامي ادبياتو د مطالعې ذوق پيدا سو او يوه بل مستشرق براون د ده دا ذوق وربشپړ کړ.

په ١٩٠١ ع د لندن په يونيورستي کالج کي د فارسي ژبي په استادۍ وټاکل سو او په ١٩٠٢ ع يې له دې کاره استعفی وکړه او د کيمبريج په پوهنتون کي د فارسي ژبي استاد مقرر سو، تر ١٩٢٦ ع پوري د براون په ملګري هلته د فارس په تدريس مشغول و، او تر ١٩٣٣ ع وروسته له دې پوهنتونه بېل سو.

د ده د مطالعاتو موضوع د اسلام تصوف و، او په خاص ډول يې د مولانا جلال الدين بلخي رومي د مثنوي مطالعه کوله، ده د خپلو تحريراتو آغاز او انجام د مولانا په آثارو سره کړی دئ، لومړی کتاب يې د (شمس تبريز د ديوان انتخاب) دئ، چي په ١٨٩٨ ع يې چاپ او خپور کړ، آخرنی کتاب يې هم د مثنوي شريف د دريم او څلورم دفتر شرح ده، چي په ١٩٤٠ ع کال چاپ سو.

نکلسون غوښته چي د مولانا مکمله سوانح وليکي او د مثنوي شريف لساني او ادبي تاريخي خواوي وپلټي په دې سلسله کي ده اته کتابونه کښلي دي، چي شل کاله پرله پسې په دې خدمت مشغول دئ، علاوه پر دې يې لاندي کتب هم چاپ کړي دي:

تذکرة الاولياء، چي د شيخ عطار اثر دئ، لومړی ټوک يې په ١٩٠٥ ع او دوهم ټوک يې په ١٩٠٧ ع له قلمي نسخو څخه په خورا صحت چاپ او خپور کړ.

کشف المحجوب، د علي هجويري چي دا کتاب يې په ١٩١١ ع په انګليسي ترجمه او چاپ کړ.

د ابن العربي ترجمان الاشواق، په ١٩١١ ع ترجمه او تحشيه کړ.

په ١٩١۴ ع يې د اسلامي صوفيانو Mystics of Islam کتاب خپور کړ.

کتاب اللمع چي په ١٩١٥ ع يې د دغه کتاب مضامين لنډ په انګليسي وکښله.

په ١٩٢٠ يې د علامه اقبال اسرار خودي اقتباس کړه.

په ١٩٢١ کي يې د اسلامي تصوف مطالعات شرو کړه، چي په انګليسي يې Studies of Islamic Mysticism وباله، دا کتاب د اسلامي تصوف ښه معلومات لري.

په ۱۹۲۳ ع يې يو کتاب وکيښ (په تصوف کي د ذات تخيل).
د ده له نورو آثارو څخه (د عربي ادب تاريخ) ډېر مشهور دئ، چي په ۱۹۰۷ ع کي خپور سو.

نکلسون په اسلامي دائرة المعارف کي ځيني ښې ښې مقالې ليکلي دي، چي خورا اهميت لري او ډېر نور آثار او رسالې هم ده ليکلي او خپرې کړې دي. نکلسون د صبر او استقلال او زيار او زحمت خاوند و، ټول عمر يې په علمي څېړنو کي تېر کړ او شرقي او اسلامي علومو ته يې ښکاره خدمتونه وکړه، بلکي د اروپا او شرق تر منځ يې يوه د اخوت رشته پيدا کړه او اسلامي علومو ته يې نوې دنيا ملتفه کړه او له دې لاري يې يو بين المللي شهرت وګاټه.

دا عالم يو کال دمخه د ۱۹۴۵ ع کال د اګسټ پر ۲۷مه په انګلستان کي وفات سو او د ده وفات علمي دنيا ته يوه لويه صدمه ده، خاص بيا شرقي تمدن او اسلامي علوم د ده له وفاته متأثر دي.

کابل مجله، ۱۳۲۵ ش کال، دريمه ګڼه، ۷۰ مخ.